شهادت

ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

(٤) صفحه

شماره مسلسل (١٠٤٥) سال هژدهم ، شماره (١٣١) دوشنبه (٤) جدي ١٣٧٤ هـ . ش (٤) شعبان المعظم ١٤١٦ هـ .ق (٢٥) دسمبر ١٩٩٥ م

دحزب اميرورور «حكمتيار» دخواشيني په پيغام کي :

په کابل کي دهند او روس پلوي اداره د پاکستان دمسلمان ولس پرخلاف تروريستي فعاليتونه کوي

بايد پاکستاني ولس دکابل اداري عمال افغان ولس ته منسوب نکړي

موږ دغم ځيليو کورنيو په ويرکي ځانونه گډ بولو

په هغه پيغام کې چې په سرويې کې دحزب اسلامي دنظامي قرارگاه لخوا دجمعې په ورځ خپورشودحزب اسلامي امير ددغه بم په چاودنه کي دانساني اوماليي ضياع په هکله خپل عميق تاثربښودلي اوله مصيبت اخته کورنيوسره ئې خپله دزره له کومي غمرازي ښکاره کړي .

ورور حکمتيار په خپل پيغام کې ويلي چې و کله هم په کابل کې دروس اوهند دوست حکومت جوړشوي نوهغوي بيا دهندوي دخوښي په خاطر دپاکستان دمسلمان ولس پـه خلاف دغه ډول تروريستي فعاليتونه پيل کړي خودپاکستان ولس په دغه ډول تروريستي (٤)مخ

مناطق افغان کالوني وسرداراحمدجان کالوني توسط پوليس پشاور محاصره شد

هدف ازاين تالاشي دستگيري افراد جمعيت ، شوراي نظار وكشف اسلحهٔ مخفي شده بود

پشاور - ٣ جدي :
مناطق افغان كالوني وسرداراحمد جان كالوني شهرپشاور توسط پوليس محاصره وبعضي ازمنازل مهاجرين تالاشي گرديد .
خبرنگارشهادت ازپشاورگزارش ميدهد كه صبح امروز پوليس پشاور به مناطق مذكور رفته آنجارا محاصره نموده وبه تالاشي منازل مسكوني مهاجرين آغازنمودند .
گزارش ازقول منابع آگاه مي افزايد تالاشي مذكوربه منظور دستگيري افراد مربوط تنظيم جمعيت وشوراي نظاربوده ضمناً جهت دريافت اسلحهٔ مخفي نيز به اين اقدامدست زده بودند .
درگزارش ازتعداد افراد دستگيرشده ويااسلحه دريافت شده معلومات داده نشده اما احتمال ميرود كه تعدادي ازمهاجرين كه به تنظيم جمعيت وشوراي نظار مربوط بودند دستگيرشده باشند .

شليك راكت برشهركابل شانزده تن رامجروح ساخت

مواد امدادي برشهريان كابل توزيع شد

كابل - ٢ جدي :
دراثر اصابت راكت برمنطقه وزيراكبرخان شهركابل حداقل شش نفر مجروح گرديد .
به اساس گزارش هاي رسيده به تعقيب حملات راكتي روزهاي پنجشنبه وجمعه شام روزشنبه نيز قسمت شمال شرق وزيراكبرخان هدف اصابت راكت قرارگرفت كه شش تن رامجروح ساخت كه پنج تن ازمجروحين اطفال ميباشندويك تن آن زن بيوه ئي ميباشد كه يكپايش را ازدست داده است .
قابل ياد آوريست كه درحملات راكتي روزجمعه چارتن كشته شده بودند كه اداره كابل مسئوليت اين حملات راكتي رابه گروه طالبان نسبت ميدهد اماطالبان اين ادعاي اداره كابل را ردميكنند واظهارميدارند كه هدف پرتاب راكت آنهااهداف نظامي ميباشد نه اهداف ملكي
همچنان طالبان به ارتباط اصابت راكت برمنطقه وزيراكبرخان اظهارداشته اندكه درمنطقه وزيراكبرخان اهداف ملكي وجود ندارد كاملاً يك منطقه نظامي است . همچنان به اساس يك خبر ديگردبروز درجنوب كابل حداقل ده نفر دراثر اصابت راكت مجروح شده اند .
ازجانب ديگررسانه هاي خبري بين اللللي گزارش ميدهدكه سازمان هاي ص(٤)

دحزب اسلامي افغانستان اعلاميه

دهماهنگي شوري دغړيو تنظيمونو او كابل ائتلافي اداري ترمنځ دائتلاف تبليغات بې اساسه دي

دحزب امير په هيڅ ځاى كي دكابل له هيئات سره نه دي كتلي

که څه هم دطالبانو وبندويانو يې ردوى خوله هماهنگي شوري سره يې يوه جامع طرحه لاسليك كړي ده

حزب نـه دهغـه چا پـه شان دي چـي پـه پټه يـوځـه كـوي او پـه ښكاره بـل څـه ، او نـه دهغـو پـه څـير دي چـي پـه ژمنـو پسـې ايسـودل ورته كمال بريښي

پيښور :
حزب اسلامي افغانستان تيره ورځ په يوې خپرې كړي اعلاميه كي ويلي چي دكابل دائتلافي اداري اودشوراي هماهنگي دغړيو تنظيمونو ترمنځ دائتلاف په باره كي تبليغات بې اساسه اودروغ دي .
په اعلاميه كي ويل شوي و دكابل دهيئت سره دحزب اسلامي افغانستان دامير ورور حكمتيارليدنه كتنه نه په جلال آباد ، نه په سروبي اونه په پكتياكي شوي اوپه دي هكله خپاره شوي خبرونه هيڅ ډول حقيقت نلري . دا افواهات دځينو معينوحلقو لخوا نه دذهنيتونودمغشوشولو له پاره په دروغو خپريږي .» (٤)مخ

دكابل اداري دتوپچي خواكونو دډزوله امله :

دكابل ښارگڼ شميربيگناه اوسيدونكي پـه شهادت ورسيدل

كابل - دمرغومي ٣ مه :
دكابل ښار دېتي حصاربه سيمه كي دسوريو يو موټر دكابل اداري دځواكونوترحملي لاندي ونيول شو .
دكابـل څخه درارسيدلي رپوټ په اساس تيره ورځ كله چي دسورليويوموټر دبتي حصارڅخه دكابل ښارلوري ته روان ؤ دكابل اداري دځواكونو دتوپچي قواوو ترډزولاندي ونيول شوچي دهغي په ترځ كي موټرويجاړ اوسورلي ئې ټولي په شهادت ورسيدي .
په رپوټ كي ويل شوي په دغه موټر كي سپاره كسان ټول په شهادت رسيدلي چي پـه هغوي كي ښځي او ماشومان هم وو .
خبر زياتوي له پيښي وروسته دنږدې سيمي اوسـيدونكي د پيښي ځاي ته ورغلل اوشهيدان ئې خاوروته وسپارل .

پاكستان جنرال موسي خان سرقونسل اداره كابل را شخص نامطلوب قرار داد

موسي خان بايد ظرف چهل وهشت ساعت از پاكستان خارج شود

اسلام آباد - ٢ جدي:
حكومت پاكستان جنرال موسي خان سرقونسل اداره كابل درشهرپشاور رابه نسبت فعاليت هاي جاسوسي شخص نامطلوب قرار داده وبه وي چهل وهشت ساعت وقت داده است كه خاك پاكستان راترك كند .
وزارت خارجه پاكستان گفته است كه جنرال موسي خان يك شخص نامطلوب وفعاليت هاي اودرداخل پاكستان مغايرپرنسيپ هاي ديپلوماتيك ميباشد بكاربردن عبارت فعاليـت هاي مغايرپرنسيپ هاي ديپلوماتيك معمولاً درجهت فعاليت هاي جاسوسي به كارميرود واين اقدام حكومت پاكستان درست زماني صورت ميگيرد كه سه روز قبل ازآن انفجار هولناكي درصدرپشاور رخ داد .
سه ماه قبل نيز حكومت پاكستان ١٩ تن هواداران ديپلوماتيك و١٢ تن هواداران غير ديپلوماتيك اداره كابل را اخراج كرده بود ولي اخراج ديپلومات هاي اداره كابل به نسبت حمله برسفارت پاكستان صورت گرفته بود واكنون اخراج جنرال موسي خان به تعقيب انفجاريكه باعث كشته ومجروح شدن ده هاتن درپشاور شدصورت گرفته است . ص(٤)

دطالبانو غورځنگ، ٢٠٠ نورجنگيالي دكابل محاذونو ته واستول

كندهار - دمرغومي ٣ مه
دطالبانودتحريك مربوط دپوځي زده كړو دكورس دوهمي دوري دوه سوه تنه زده كونكي فارغ اودجگړي ډگرته واستول شول .
دكندهارولايت څخه درا رسيدلي رپوټ په اساس تيره ورځ دطالبانو دتحريك مسلحوقواووقوماندان نومورزده كونكو ته چي پنځه مياشتني پوځي زده كړه ورته شوي وه بري ليكونه وركړل اودكابل لويديځ اوجنوب لويديځ محاذونوته بې واستول .
په رپوټ كي ويل شوي په دغوزده كونكوكي سل تنو دټانك اوپياني نورو ثي دډرنووسلو داستعمال كورسونه تعقيب كړي او اوس دي تـه تيارشوي چي دجگړي پـه ډگر كي لـه هغوي نه كارواخيستل شي .

قائد متواضع --انقره (تركيه) : ناظرين سياسي معتقدند كه "حزب اسلامي رفاه" يكى از دو حزب برنده، انتخابات پارلماني روز يكشنبه در تركيه خواهد بود. عكس فوق نجم الدين اربكان رهبر "حزب اسلامي رفاه" را در يك كنفرانس در شهر انقره مركز تركيه نشان ميدهد.

د پيښور دوروستي چاودنې دعاملينو په هكله د پاكستاني مقاماتو مختلف نظريات :

پـه چاودنـه كـي بهرنـي لاس لـه امكـان څخـه وتلـي نـدى

بې نظيربوټو

دكوم افغان گروپ دلاس لرلو په هكله تراوسه څه نشوويلاى

شيرپاو

په چاودنه كى دربانى اداره لاس لرى ، پاكستان بايد ځوابى عمل وكړى

نوابزاده نصرالله خان

چاودنه، دهند او ربانى ادارى دگډ پلان نتيجه كيداى شي

باخبره ذرايع

په چاودنه كى دمړيو شمير (٤٥)، تنو ته ورسيد (٤)مخ

مولانا فضل الرحمن درگفتگوباصداى امريكا :

مداخله در اموراخلى افغانستان متوقف ، حل قضيه وبحران جارى درآنكشور به خودافغانها گذاشته شود

واشنگتن - ۴ جدي :
مولانا فضل الرحمن رهبر جمعيت العلماء اسلام گفته است كه مداخلهٔ خارجي درامورداخلي افغانستان متوقف وحل بحران جاري درافغانستان بخود افغان هاگذاشته شود .
موصوف اين اظهارنظررا درمصاحبه كه باصداي امريكا داشت كرده است
مولانا فضل الرحمن گفته است كه وي ازپاليسي وموقف رسمي حكومت پاكستان قايندگي نمي كند بلكه اظهاراين مطلب نظر شخصي وي ميباشد نامبرده درادامه سخنانش گفته كه بايد حل بحران افغانستان ازطرق سياسي طوري دستياب ص(٤)

دورورحكمتيار دخواخوږي پيغام :

دهلال له خوا دصوبه سرحد گورنر خورشيد عليخان ته ورسول شو

پيښور - دمرغومي ٢ مه :
دحزب اسلامي دسياسي كميټي رئيس انجنيرقطب الدين «هلال» ديوه هيئات په مشري دصوبه سرحد دگورنر خورشيدعلي خان دلورواولسياتو په فاتحه كي گډون وكړ .
دشهادت ورځپاڼي خبريال زياتوي : له انجنيرهلال سره په داسي حال كي چي دصوبه سرحد له حكومت سره دحزب اسلامي دارتباط مسئول حاجي محمد نعيم مصطفي هم وو سره ملگري ؤ پرهغه له غرمي مخكي په مردان كي دخورشيد علي خان كورته ورغلل اوله هغه سره يې دخواخوږي له امله دحزب اسلامي دامير ورور حكمتيار پيغام هغه ته ورساوه او مفاتحې په مراسمو كي يې گډون وكړ .
انجنير «هلال» دخواخوږي په ترځ كي وويل چي : دپيښور ـ په صدركي ديو (٤)مخ

قاضي حسين احمد احتمال دخالت افغانان واعراب درحادثه انفجار پشاور را رد كرد

پشاور - شنبه :
سناتورقاضي حسين احمدامير جماعت اسلامي پاكستان روزشنبه ضمن مصاحبه اي كه درمجلس قرآن خواني براي قربانيان حادثه انفجار بعد شام روزپنجشنبه منعقدگرديده بود ، احتمال دخالت افغانان واعراب رادرين حادثه ثرائيك قوياً ردكرد
وي گفت « افغانان واعراب درين جادشنائي ندارند .علاوهٔ آنان مسلمان اند ودين اسلام ارتكاب چنين اعمال غيرانساني را مجاز نمي شمارد .»
اميرجماعت اسلامي گفت : بجاي بررسي احتمال دخالت افغانان يا اعراب درين حادثه بايد بخاطر بياوريم كه درين سانحه ، هند دخيل است .
وي گفت : ماصرفاً يك دشمن داريم كه عبارت از هند است .
قاضي حسين احمد گفت درخرابكاري درسائر حصص كشور ازجمله كراچي نيز هند دخيل است .
اميرجماعت اسلامي گفت : اعراب برادران ماهستند. آنان جهت پيشبرد يك داعيهٔ برحق مسلمين به اينجا آمده اند . ص(٤)

تعدادى از افغانها به اتهام دست داشتن در انفجارپشاور دستگيرشدند

پشاور - ٢ جدي :
منابع حكومتي پاكستان گفته اندكه حين عبورازمرزطورخم به افغانستان آنهاافرادي رادستگيركرده اندكه اعتراف به دست داشتن درانفجار اخيرنموده اند .
درگزارش منتشره منابع خبري پاكستان گفته شده است كه مقامات امنيتي حكومت پاكستان اظهار داشته اندكه مجرمين هنگام تحقيق به اين مطلب نيز اعتراف كرده اند كه يكتن ازهمكاران آنها دراين انفجارازبين رفته است .
مقامات حكومتي از تفصيلات مزيد دراين زمينه خود داري كرده اند امايك منبع مسئول ادعاكرده است كه اين چارتن كه تحت تحقيق قراردارند بدون شك درانفجار اخيردست دارند.
امامطابق يك گزارش ديگرپوليس پشاور هشت تن افغان مشتبه ديگررانيز درنقاط مختلف شهردستگير كرده اند وتالاشي درنقاط مختلف شهرجريان دارد .
گزارش اضافه ميكند كه موترهاي افغان و سايرخارجي ها توسط آلات مخصوص تالاشي مي شوند وحتي بايسكل سواران نيز تحت نظر قرارداشته ص(٤)

نوابزاده نصرالله خان خواستار حمله برتاسيسات نظامي افغانستان گرديد

لاهور - شنبه :
نوابزاده نصرالله خان كه يكي ازرهبران كميته كارسياسي پاكستان بشمارميرود، رژيم رباني را مسؤول فعاليتهاي تروريستي درپاكستان خوانده وي كه رياست كميته اموركشمير را درپارلمان پاكستان نيز بعهده داره گفت : پاكستان بايدفوراً تاسيسات نظامي رامورد حمله قراردهد تا رژيم حاكم بركابل نتواند پاكستان را ازطريق توسل به عمليات تروريستي بي ثبات گرداند.
نصرالله خان كه خونسردترين رهبر سياسي پاكستان خوانده شده است ، دركنفرانس مطبوعاتي ايكه باعجله زيادي آنرا درمنزلش وقتيكه درجاده نيكولسن درشهرلاهور، خطاب به خبرنگاران گفت : حكومت پريزدنت پروفيسر برهان الدين رباني محصول نتيجه تلاشهاي پاكستان است . اما، استاد رباني پس ازبقدرت رسيدن ، وجانب اخلاقي خودرا فراموش كرده واسعز ص(٤)

شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانګرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
سرمحرر : محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلفون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

دپېښورچاودنه، احتیاط او اندیښنې

دپنجشنبې په ماښام چې دپېښورپه صدربازارکې کومه لویه چاودنه وشوه ، هغه پروحشیانه اوبزدلانه عمل ؤ، عاملین ئې چې څومره هم وغندل شي اوله سختې نه سخته جزا ورکړله شي بیاهم کمه ده .

دېره شوم او ناخوانمردانه هدف لپاره په لسګونو مسلمانان په وینوکې لمبول اوپه زرګونوکورنې په ویراوماتم کې کېنول دانسانیت دېرې لویللې اوکرغېړنې درجې نماېندګي کوي .

که څه هم تراوسه دچاودنې مجرمان نه دي نیول شوي، اودقیقه خبره نشي کېداي چې دپېښې اصلي مسئولین څوك دي، خوزیاتې څرګندونې او اټکلونه دکابل اداري په خوادي اوځینې پاکستاني مسئول مقامات په صراحت دپېښې ترشادنوموړې اداري لاس درلودوته اشاره کوي .

حالات هم داسې ښئي چې دصدرچاودنې ترشا دکابل اداره حتماً ملوثه ده . که دااودې ته ورته کارونه هند هم کوي، خوپکې استعمال شوي حتماً دنظارشوري ده .

په کابل کې دخاد پخوانې شبکې فعالې دي، هماغه سیستم ژوندي دي، افرادئې فعالیت کوي اودکارطریقه ئې ببخې دپخوا په څېر ده . په پاکستان کې خادهغه وخت هم تخریبي کارونه کړلاي شواي اوپه ډېره زیاته پیمانه ئې کړل چې په پاکستان کې خورا مضبوط حکومت و، اودنن په نسبت د پاکستان استقرار هم که ښه نه و، خراب خوپه هیڅ صورت نه و، په دې علاوه دمجاهدینو دتنظیمونو په تېره دحزب اسلامي امنیتي اداري په پاکستان کې فعالې وې . همدارز دکابل دهغه وخت اداري ته په پاکستان کې دتخریبي کارلپاره لنړل اوبیا دمهاجرینو په منځ کې ګډېدل هم دېرزیات ګران کارو . خوددې ټولو باوجود دپاکستان په سرحدي ایالت کې زیاتې چاودنې کېدلې .

داصحیح ده چې اوس کابل اداره دداکترنجیب دررژیم په نسبت کمزورې ده خولکه مخکې مو چې ورته اشاره وکړه ډېر عوامل داسې شوي چې په پاکستان کې دتخریب لپاره دنوموړې اداري کاردپخوانې رژیم په نسبت اسانه کوي .

پاکستان حق لري چې دپېښې دعواملو په باب خپل دریځ څرګندکړي اوکه ددې عامل کابل اداره ګڼي، دهغې په وړاندې خپله کرکه اظهار کړي اوهرډول عکس العمل ئې چې منافع ایجابوي هغه ونیسي ، مګر یوټکي خورامهم دي اوهغه لکه چې دحزب امیر په خپل پیغام کې ورته اشاره کړي دادي چې پاکستاني مسئولین داډول ترورېستي عملونه په هیڅ توګه ټول افغان ولس ته منسوب ونه ګڼي .

موږلکه دمخه چې وویل پاکستان ددې مسلم حق لري چې دکابل اداري په وړاندې څنګه چې مناسب ګڼي موضع ونیسي خو باید له خورا احتیاط نه کاروانخلي چې داسلام اوزموږ ددوارو مسلمانوملتونو دښمنان خداي مکړه په دې بریالي نشي چې رواني پېښوته داسې بڼه ورکړي چې په کرارکرار خبره ددووهیوادونو اودوملتونو خپګان اوکرکېچ ته ورسېږي .

باید انصافاً ووایوچې پاکستاني مسلمان ملت اوقیادتونږي تراوسه دخورالوړمعیار اومعقول کرکټر مظاهره کړې ده ، هغوي لکه چې زموږ دمقدس جهادپه وخت کې زموږ دملت ددښمنانوداهیله پوره کېدوته پرېنښوده چې په فشارونو اوتخریبي حرکتونو دافغان ولس په وړاندې دپاکستاني دوروري اوپیوستون دریځ واړوي ،همداسې اوس هم دادښمنان په دې نه دي بریالي شوي چې دپاکستان دهوښیاراومومن قوم موضع دافغان ولس په رابطه بدله کړي .

دپېښور دچاودنې په موقع اوترهغه وروسته به په طبیعي ډول ځینې اقدامات شوي وي، خو په مجموع کې دپاکستان دمسئولینواومسلمانو خلکو هوښیارۍ اودقت دستاېلوده اوڅومره چې همدې چارې ته توجه وشي، همدومره به دښمنان مایوسه کېږي اوهغه مهم غرض چې ددې چاودنو ترشاتې داسلام دښمنان لري له خاووسره برابرېږي .

ترکومه چې دافغانستان په ولس اوددې ملت په مومنواومجاهدو قوتونو پورې اړه لري ، هغه دپاکستان دمسلمان ملت دښمنان دخپل ملت دښمنان ګڼي او دداسې ګهودښمنانو په خلاف به دخپل ورور پاکستاني ملت سره اوږه په اوږه ولاړوي اودادمسلمان پاکستاني ملت لپاره یوه دحساب ورمسئله ده . هغه باید په دې حساب وکړي چې یومخلص، اومجاهد ولس ئې په څنګ کې ولاړدي، هغه ولس چې دوفا ، اوودوستۍ ، پالل ئې دستوردي .

باید هغه ته ارزښت ورکړل شي ، باېېزه ونه ګڼل شي، په بې غوري ورسره برخورد ونکړل شي اوترټولو مهمه اوبیاهم مهمه داچې دوترهېن ، هڅه ئې ونشي .

په پېښور کې دبم چاودنې اثرات

مبصر

د تېرې پنجشنبې د ماښام په ۳۰-٦ بجو د پېښور ښار دصدر بازار په خورا معروف ځای کې دبم چاودنه وشوه .
دخبري سرچینو په مطابق دغه بم چې وزن ئې تر۲۵ کیلوګرامو پورې ا ټکل شوی په یوه موټر کې ځای په ځای شوی و .دبم د چاودنې په واسطه د غیر رسمي اطلاعاتو له مخې تر پنځوسو پورې کسان چې په کې ښځې او کوچنیان زیات شامل شوی وژل شوی او تریوسل اودېرشو پورې زخمیان په مختلفو شفاخانو کې تر تداوی لاندې دي .ممکن د زخمیانو او وژل شوو وګړو شمیره ددې څخه هم زیاته شي .
د خبري سرچینو په حواله ویل کیږي چې په هغه ورځ دوه بمونه چې یوئې په یوره کې د شپې په یوه بجه وچاودېد او دمظلوموانسانانو دجمعی قتل موجب وګرځي .
دبمونو په واسطه دمظلومو ولسونو ترورول ، ولسونوکی د ویری او هیبت فضا را پیدا کول ، د بی وسه او مجبورو اوبی دفاع کوچنیانو اوښځو وژل او معیوبول ، د کورونو په دروازو کی د شخصیتونو ترورول او .... ټول داسی عوامل دی چی د بی ایمانه ، بی ضمیره ، بی عقیدی او

پا کستان انتظار درلود ترخو افغان ولس ورسره د آزادی وروسته ، د یوه ورور په خیر ژوند وکړی او هغه خطر چی دغه اسلامی هیواد ته دهندی او روسی دښمنانو له لوری متوجه و دهغی په مقابل کی ورسره لاس یو کړی او یا اقلاً د هندی متعصبو رژیمونو دتجاوز په جریان کی د افغانانو له لوری مطمئن اوسی .
خو قضایا بل دول وځرخېدل ، اصلی لوبغاړی دپردی ترشانور حوك وو . پاکستان دیوه ترانزیت په حیثیت استعمال شو . او په کابل کی د رژیم په شخصیتونو کی د قوارو او مخونو تبدیلی راغله فکراوعمل هماغسی په خپل ځای پاته شو

زیان ئي نه درلود بل ئي د قصه خانی په بازار کی د کابلی تهانی ترڅنګ په ګڼه کی ځای په ځای شوی ؤ چی خوشبختانه کشف شو او د زیان څخه ئی ښاریان مصئون پاتي شوګ .
دبم د چاودنې وروسته رسمی مقاماتو او په ځانګړی توګه پولیسو په کابل کی ناست رژیم په دغه تخریبی کاربڼدی متهم کړ او دغه راز ترورېستی او تخریبی عوامل ئي د کابل او اسلام آباد ترمنځ د اختلافاتو او کړکیچ نتیجه ګڼلی . رسمی مقاماتو ددی ترمخه په لاهور، اسلام آباد او فیصل آباد کی د بم په چاودنو کی دخلکو دوژلو او زخمی کولو مسئولیت د کابل د رژیم په غاړه ور وچولی .
د کابل او اسلام آباد ترمنځ داختلافاتو نوعیت دا دی چی په کابل کی یوه غیرقانونی او غاصبه اداره په قدرت تسلط لری چی د پاکستان په شمول ئي ټوله نړی د رسمیت پېژندلو څخه ډډه کوی او د کابل اداره بیا پاکستان په هیواد کی دهغوی ددغه غاصب نظام د چپه کولو په خاطر د طالبانو ملاتړی او په خپلو امورو کی مداخله کونکی ګڼی ، خو اختلافات هم خپل حدود لری نـه دا چی د ولس

بی احساسه خلکو او ادارو وحشیانه او بزدلانه کار ګڼل کیږي . هغوی چی د دین او ایمان ذره په زړونوکی ونلری او د آخرت د ورځی د رب العالمین ترمخه د حساب کتاب ویره او ترهه ونلری د داسی مجرمانه او غیر انسانی عمل مرتکب ګرځی داعمل که دځمکی په هری خطې کی ترسره کیږي ، که د هر چا له لوری سرته رسیږي خو یو وحشی فعل حسابیږي .
دا که په ګران هیواد افغانستان کی د برسراقتدار غاصبی سکتاریستی متعصبی ولی له خوا دولس په مختلفوپرګنوکی ترسره کیږي او که د رژیم د مخالفینو لخوا قصداً او عمداً د خلکو ترور اوتهدید په خاطر د تاکتیکی ذریعی په واسطه ترسره کیږي ، اوکه د پاکستان په مسلمان ولس کی دمظلومو انسانانو دقتل موجب ګرځی، او که د نړی په بل کوم ګوټ کی سرایاسی یوغیر انسانی فعل دی .
د پاکستان مسلمان ولس چی په افغانستان کی ئي د روسی تجاوز سره سم خپله غېږه زموږ دولس د بې اسرې خلکو ترمخ په پوره مېړانه او اخلاص پرانسته او زموږ د ګران ټاټوبی په آزادی کی ئي دسره استعمار دسرو لښکرو په مقابله کي

هر ډول قربانی ته چمتو شو او دکمونست رژیم او روسی ځواکونو په لوری د هرډول ، ان تردی چی د انحلال د تهدیدسره مخامخ شو په هیواد کی ئي د روس د «کی جی بی » او دکابل د «خاد » له لوری په پراخه پیمانه تخریبی اعمال دبمونو د ایښودلو او په ولس کی د ویری ا وخفګان د پیدا کولو له پاره په دی خاطر ترسره شول چی دغه ولس او ترڅنګ ئي دولت او حکومت دهندی تخریبی اعمالو په واسطه دی ته مجبور کړی چی دهیواد د آزادی د اسلامی تحریك د ملاتړ څخه لاس واخلی او په دی اسلامی هیواد کی میشته مهاجرین بیرته په زور د قصاوت او شقاوت او وحشت او دهشت په خاطر د کابل د وخت وحشیانو ته تسلیم کړی . خو د پاکستان ولس اوحکومت ئي په دی هکله په پوره مېړانه د هرډول زور ، تزویر او ترور مقابله وکړه خپل ولس ئي د افغان مجاهد ولس پرځای په خطر کی ورکړ خو دافغان ولس له پاره ئي حتی په تندی کی ګونځې هم پیدا نه شوي.
پا کستان انتظار درلود ترڅو افغان ولس ورسره د آزادی وروسته ، د یوه ورور په څېر ژوند وکړی او هغه خطر چی دغه اسلامی هیواد ته دهندی او روسی دښمنانو له لوری متوجه دی دهغی په مقابل کی ورسره لاس یو کړی او یا اقلاً د هندی متعصبو رژیمونو دتجاوز په جریان کی د افغانانو له لوری مطمئن اوسی .
خو قضایا بل ډول وځرخېدل ، اصلی لوبغاړی دپردی ترشانور څوك وو . پاکستان دیوه ترانزیت په حیثیت استعمال شو . او په کابل کی د رژیم په شخصیتونو کی د قوارو او مخونو تبدیلی راغله فکراوعمل هماغسی په خپل ځای پاته شو . د مسلمانانو او اسلامی نړی د انتظار شپی په مصیبت بدلی شوی ، کابل د روس اوهند له پاره د پخوا نه زیات د ګرداګی حیثت پیدا کړ ، روس او هند خپلی پښی لوری هم هلته کلکی کړي او د دغه ګاونډی اسلامی هیواد- ټو ل احسانات یوی خواته پری ښوول شول او بالاخره قضاپاڅ هماغه پخوانی پروسه خپله کړه ، د پاکستان په مختلفو ښارونو کی په عامه ځایونکی ، په سرویسو نوکی او دمکتبونو په اطرافو کی دبمونو د ایښولو کار یوځل بیا د «واد » او «را » په واسطه پیل شو . په کابل کی د روس او هند د سفارتونو پرځای دهندي هیواد

سفارت وسوځول شو ، سفیرئی ووهل شو او دسفارت دعملی یوکس ئي د وژل شو . اتهام ئي دکابل اداری په اوږو واخست . د پېښور د کوچنیانو د مکتب سرویس وتښتول شو ، ډرامه دکابل سفارت ته ولاړه او اتهام ئی دکابل ځاشستانو په اوږو پریوت ،په اسلام آباد کی د مصر سفارت خانه کی د موټر بم والوت ، اتهام ئي دکابل د سکتاریستانو په تربیه شوو افراد و ورغی، په حیات آباد کی افغانی شخصیتونه بی لــه کوم موجب څخه ترورشول ، الزام ئي دکابل په متعصبینو باندی ولګید . د جلوزو په کمپ کی دوه مسلمانی ښځینه ډاکترانی چی د کمپ د بې چاره مهاجرینو په خدمت کی شپه او ورځ مصروفی وی په رڼا ورځ قتل شوی . او اتهام ئي په افراطی بی مسلکو ولګید او اوس په صدر بازار کی د موټر بم وچول شو او بیاهم متهمه هماغه وله شوه .
په هیواد کی دنظام د بدلون نه وروسته نژدی دری کاله تیرېږي خو هیواد وال اوس هم په سل ها وزره د پاکستان په خاوره او ولس دیره دی . د دوی ترمخه تر اوسه پوري هیڅا د دوی د پوری وهلو جرئت هم نه دی کړ ی ، با عزته او ابرومندانه ژوند لري . منتظر دی چی په هیواد کی به ئي سوله او ا منیت راشی او دوی به هم خپل ټاټوبی ته په سکون سره ولاړشی . خو داسی برېښی چی دکابل رژیم نه غواړی دولس دغه برخه خلك ئي هم په دی هیواد کی د سکون څو شپې تیری کړی . ځکه په دغه هیواد کی هــر تخریبی او ترورېستی عمل چی اتهام ئي دکابل په

ترورېستانو وارد‌ېږی دهیوا د په مهاجرینو مستقیم اثر لری . په داسی حال کی چې دهمدغی چاودنی په نتیجه کی به یوشمیر افغانان چی هلته په صدر کی په خپل کارو بارکی مصروف وو، منځه تللی او تپیان شوی وی خو له بله اړخه به یوزیات شمیر مظلوم مهاجرین د کابل د بر سر اقتدار ولی د کړونو سزا ګالی، توهیږی به ، او د شك په ښسټ به د وهلو او ټکولو د اذیت شپی سبا کوی . په دی خاطر د افغانستان د اسلامی حزب امیر محترم وروړ حکمتیار په ځای دا خبره کړی چی «د ا د افغانانو کارنه دی بلکه دا د روس او هند د ملګرو کار دی د داؤد دررژیم او دکمونستانو د حاکمیت په وخت کی هم روس اوهند دلته په دی هیواد کی دغه ډول تخریبی اعمال د خپلو شپکرله لوری ترسره کړی ، حقیقت دا دی چی په کابل کی اوس هم د کمونستانو بقایا د روس اوهند په تعاون او دهغوی د خوښی له پاره دا ډول اعمال ترسره کوی ، دا دهغه خلکو کار دی چی له خدایه ویره نلری ، په مسلمانانو ترحم او عاطفی نلری . دا دکمونستانو او دهغی د ائتلافی ملګرو عمل دی .»
موږ په داسی حال کی چی دغه ډول ترورېستی عمل په کلکه محکوموو د پاکستان د ولس او حکومت نه غواړو چی دا ډول اعمال د افغان ولس په لمن کی وانه چوی . اوهغه شمیر افغانان چی دلته په پاکستان کی دمهاجرینو په حیث په امن او سکون کی ژوند کوی بی ځایه تکلیف او تعذیب نکړی . ترڅو په افغانانو کی دغلط احساس را پیداکونکی عناصر ددغه موقع او فرصت نه بده استفاده ونه شی کولای .

دبمونو په واسطه دمظلومو ولسونو ترورول ، ولسونوکی د ویری او هیبت فضا را پیدا کول ، د بی وسه او مجبورو اوبی دفاع کوچنیانو اوښځو وژل او معیوبول ، د کورونو په دروازو کی د شخصیتونو ترورول او .... ټول داسی عوامل دی چی د بی ایمانه ، بی ضمیره ، بی عقیدی او بی احساسه خلکو او ادارو وحشیانه او بزدلانه کار ګڼل کیږي . هغوی چی د دین او ایمان ذره په زړونوکی ونلری او د آخرت د ورځی د رب العالمین ترمخه د حساب کتاب ویره او ترهه ونلری د داسي مجرمانه او غیر انسانی عمل مرتکب ګرځی داعمل که دځمکی په هری خطې کی ترسره کیږي ، که د هر چا له لوری سرته رسیږي خو یو وحشی فعل حسابیږي .

صندوقچه بچهٔ باچا

طنزهفته

بقلم بیسواد

همو روزکه زیاد تر خویش وقوم در خانه میرزاګل شان جمع شده بودن ، کوکوردادا مادرګل میرزا ، همه زنهای کارکشته وباتجربه ره دورهم کله به کله کده بود وقصه زن ګرفتن نواسه اول باری خود یما جانه انداخته که ده ای روزها حتماً باید هوس و ارمان خوده پوره کنن .
کوکو دادا که مره هم ده جمله زنهای دست وپایی حساب میکد ، ګفت :
شګوفه جان خو ده انتخاب یك دخترك نوچندك وتلفه ، خوب شناخت داره ... اوره حتماً کتی خود ده طلبګاری می بریم ...
وبعد ازیك ساعت مناقشه ، همګی فیشن و درشن خوده کده ویماجان جمپرویتلون نوخوده که فریدون جان از آلمان برش روان کده بو د، پوشیده و همګی ده خیبرپارك حیات آباد رفتیم .
او خواهرك ... اولجه خیبرپارك نی که جای مود وفیشن دختر ها و بچه هاس ... جای تیم دادن ها و چشم چرانی هاس ... اګه برای کسی زن میګیری برو در خیبر پارك ... آسان و ارزان .. بی جنجال ... دختر ها ره می بینی ، خوش میکنی ، طلبګاری میکنی ،موافقه بچه و دختروه میګیری ... باز دیګه کارهایش آسان است .
کو کو دادا که دریك ګوشه پارك موقعیت خاص را ګرفته بود یك زن سرسفید دیګه همرنګ خوده پیدا کرده وقصه را ادامه داد .
تنها خواهرك ... دخترها یك چیزږه کاردارن ... که بچه خارجه بره ... پشت تحصیل ماصیل و مقبولی کسی ـ ګرده ...
کو کو دا دا که بری هرکدام ما وظیفه نظارت وارتباط را داده بود ، ایسو اوسو می ګشتیم . هر دخترکه خوش ما میآمد ، همرایش هم ګپ شده ، او ره به بهانه قدم زدن بطرف کناره های پارك می بردیم که یماجان ره ده پشت پنجره ببینه شاید یکی دیګی خوده خوش کنن ...
یما جان هم مثل پشك که بری ګوشت قابو بته ، چارچشمه و با نازونزاکت ګاهی ده یك کنج دیوار پارك می رفت ګاهی هم به طرف دیګه . شګوفه که از دور نظاره ګر آمد آمد دخترها و زنها در درب ورودی پارك بود چشمش به دختر زیبای افتید که خودش عاشقش شد . دختر هم با یك نګاه بطرف شګوفه دیده ، لبخند ملیحی نمود که زمینه آشنایی شانر ابیشتر مساعد ساخت هردو بدون اینکه باهم آشنایی قبلی داشته باشند ، نزدیك شده ، شګوفه ګفت :
- سلام ... چه حال دارین ...؟
- تشکر ... شما چه حال دارین ... ؟
- تشکر ... ببخشین نام شما چیس ؟
- مژده ... مژده مرسل ...و شما ؟
- شګوفه ...
- مژده جان ... نام خدا چهره تان به دخترهای فلم های هندی زیاد شباهت داره شما هم شګوفه جان ... بسیارقشنګی استین ... برادرم همطور چهره ره زیاد دوست داره ...
- تشکر ... اما مه خو قبلاً ...
- می دانم ... اما آدم ده زندګی خو حق داره شریك زندګی خوده انتخاب کنه .
- مام بخداکه شماره ده اول دیدم ... نظربچه خاله ام یماجان که ده ای روز ها جرمنی خات رفت ده فکرم آمد که اوهم مثل شما دختره به همی شکل و چهرهٔ خوش داره ... عکس های ره که ده اتاق خود بند کده چهره شان به شما زیاد شبیه است .. وهمیشه میګه که اګر مه زن بګیرم ، همطور شکل داشته باشه ...
- بسیارلطف کدین ... اما مه خو قبلا...
- مه و شما نداره ... بیا خواهرك که همطورقصه کنیم
وبطرف کناره های پارك رفتن که بچه ها .از پشت د یوار بری چشم چرانی کشیك می دادن مژده ادامه داد .
راستی شګوفه جان ... مه یك برادر دارم ناز دانه و دردانه مادر ، خواهر و خاله .. خدا موی سرشه کم نکنه .. مناقی خانه ما اس ... ده ای روزها کارهای امریکا رفتنش هم خلاص شده .. ما ایطور جګرخون استیم ... ماتصمیم ګرفتیم که باېشه پیش از رفتن ده یك جای بند کنیم ... ازهمو خاطر خیبرپارك آمدیم که یك دختر مثل شما ره پیدا کنیم .. چقه خوب شد که شماره دیدم .
مژده و شګوفه که نزدیك کناره های دیوار پارك بودند دو جوان کاکل چنګ و پا چه تنګ خود را با نازو نزاکت نزدیك دیوار پارك ساخته و بااشاره سر سلام علیکی کردند ...
کوکو دادا بازن پیر دیګر که از دور متوجه شګوفه و مژده بودند ، ازجای برخاسته و خود را نزدیك هردو رسانیده کوکو دادا مژده ره و شیرګل ، شګوفه ره ده بغل ګرفته کو کو دادا ګفت:
نام خدا ... اګه خدا نواسه مه زن بته مثل تو باشه بخدا ای دخترك ... جوره نداره ... وحید همطوریك کس ره میخایه ... کوکو دادا ګفت :
-خدا مهربان اس ... ده هرکار آسانی میاره .. یماجان نواسه اول باری مه خدا اول به هوس و ارمان برسانه ، خدا کار وحید جانه هم آسان میسازه ... هرچی نباشه ما ازخود هم استیم ... ازیك کابل .. شکر زنهای خانه ماهم زیاد استن ...میګن که تو بری مه که مه بری تو ...
مژده بامحبت پرسید :
- شګوفه جان خانه تان ده کجاس ... که یکروز باز بیائیم ..
کوکو دادا ګفت :
هزار دفعه .. قدمهای تان سرچشمای ما ... ده همی نزدیك مارکیت که پرسان کنین که خانه یما جان شان ده کجاس ... همګی میشناسن ...
- مژده جان ... ! شماهم که بخیالم درهمو نزدیکی ها استین ... ؟
نی بخدا ... ما عین ده بشارت مارکیت خانه داریم ..
کوکو دادا صدا کد :
- خی مژده جان ما روزجمعه همرای یما جان اګه اجازه تان باشه یکجای میآییم ..
وبه شګوفه ګفت :
- تو هم دختر کم .. اولادك هایته پیش خشویت بان ، بازبیا که طلبګاری کنیم ..
مژده که وارخطاشده بود پرسید :
، شګوفه جان شما شوهر کدین .. ؟
بلی .. دودخترك ویك بچه هام دارم .. ده خانه ما پشت کی طلبګاری میاین .. ؟
کوکو دادا ګفت :
پشت خودت بچیم .. اګه راضی باشی .. اونه یما جانه هم خو دیدی .
- اما مه خاله جان شوهردارم ..اولحه

ترشداروئی بعد از مرگ سهراب — پشاور (پاکستان)
متعاقب انفجار شام پنجشنبه در بازار صدر یکی ازمزدحمترین بازارهای شهر پشاور که حدود پنجاه تن کشته و دو صد تن مجروح بر جا گذارد، مقامات پولیس تدابیر امنیتی را افزایش بخشیدند. تصویر مقامات امنیتی را نشان میدهد که قسمت تحتانی یك وسیله، نقلیه، را در جاده، عمده، ترانزیتی این شهر سوگوار بازرسی میکنند.

نصیبه څه درسره وکړم ؟!

زماپه لمن کی له اغزیوپرته هیڅ نشته دی

مغموم

په اخبارونو کی راغلی چی د کابل حکومت د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی لفرایی د اسلامی کنفرانس سازمان ته شکایت کړی دی چی په افغانستان کی بهرنی مداخلی د جګړوسبب دی چې باید بندی شی . د نوموړی دغه خبره د پاکستان لوري ته یوه اشاره ده ، یعنی پاکستان ده په نظر زموږ په هیواد کښي مداخله کوی .... ښایی لفرایی صاحب ډیر دلایل هم ویلی وی - اوکه ورته ممکنه وای په جګړو کی نیول شوی هغه پاکستانیان به ئي هم داسلامی کنفرانس د بهرنیو چارو وزیرانو وروستی غونډی ته لاس تړلی آن ترافریقا پوری بیولی وو چې دوی له مخالفینو څخه په اصطلاح په توده جګړه کی ژوندی نیولی ...

له دغونیولی شویو پاکستانیانو سره شاید ددوی دهویت کارتونه اوله آی . اس آی سره د روابطو اوقماس بشپړ جدول او دوی ته دورکړای شوی هدف د تخریب ټول جزئیات وای - خوخدای (ج) خبردی لفرایی صاحب ولی دومره سترغفلت کړی او دغه ژوندی اسناد او شواهدیی له ځانه سره نه دی وړی هغه شاید دا دلیل هم نه دی ویلی چی د پاکستان د مداخلی ترټولو ستر ثبوت او دلیل پخپله د دوی حکومت او دولت دی چی بنیادیی د پېښوریه ګورنر هاوس کی ایښودل شوی !!

لفرایی صاحب بیاه ستر جرئت کړی او په زغرده ئی بهرنی مداخله غندلی خو خدای (ج) خبردی چی ده په هغه وخت په کندهار کی د راښکته شوی روسی الوتکی او په بګرام کی د هندوانو او روسانو د ګڼ غونډ په باب څه فکرکاوه ؟ په دی کی هیڅ شك نشته چی لفرایی صاحب له ډاکټر عبدالرحمن نه وروسته د استاد ربانی د پاچاهی کامیاب دیپلومات دی، خلك به زما په دی خبره اعتراض لری چی که هغه رښتیا کامیاب دیپلومات وای تیردوبی به په استرالیا کی په یوه غونډه کی نه بی آبه کیده ، د دوی اشاره په هغی غونډی ته وی چی لفرایی صاحب په تیر دوبی کی د استرالیا په ملبورن کی ورته وینا کوله ، ده کوم، جهادی رهبر د په غالب ګومان حکمتیارصاحب » بد یاد کړی چی سمدستی د غونډی برخوالو احتجاج وکړ- ستیج ئي و ران کړ او دی ئی نورو خبروته پری نښود .

خو زه وایم چی هر دیپلومات به دکامیابی په غلی د دریڅولپاره خامخا له داسی پراوو نو تیریږی .

محترم لفرایی صاحب پراسلامی هیوادونو او خیریه تولنوهم په غوسه شوی او ویلی یی دی چی ددوی مرستی دکابل د جګړه ځپلو لپاره په تشت حساب دی . دهغه دخبری معنی دا ده چی زموږ جګړه په ډیره پراخه پیمانه ده - وژل او ژوبلول مو ډیر دی - سره وژنو او ځپلوډیر خوراکونو د لږو تیپانو او بی کوره بی اوره بندوبست کوی .

د لفرایی صاحب اعتراض اصلاً دلته دا دی چی باید اسلامی هیوادونه د دوی د وژنو او ورانیو له اندازی سره سمی مرستی عیاری کړی داهم ډیره دیپلوماتیکه خبره او اعتراض دی ، ځکه ښه ده چی هغه له اسلامی هیوادونو دا ګیله نه ده کړی چی ولی د ځپلو وروڼو په وروور وژنه او ځپلنځی جګړه چوپ او بی تفاوته ناست دی ، ولی څه دمنځګړیتوب او سولی اقدام نه کوی .

ځکه که هغه داخبره کړی وای ، شاید کوم چا دا ګستاخی کړی وای چی استاد ربانی دی له اقتداره ګوښه شی خبره به حل او جګړه به سره شی که څه هم دوی دی ځواب ته هم ځواب درلود اولری ئي او پخپله استادهم څوڅو ځلی فرمایلی دی . چی زه خو هیواد په خلاکی نشم پرېښودی ، زه خو وطن بی سرنوشته د بی نظمیو په ځپو کی نه پرېږدم .

دا بیا بیل بحث دی چی بیر شمیر ځیرك او کنجکاو خلك د استاد دغه خبره د ډاکټرنجیب دهغی خبری کاپی بولی چی دخپل اقتدار په وروستیو کلونو کی بی ئې ویل چې زه خو د خلق دیموکراتیك ګوند دوه نیم لکه غړي دهغه په دریاب کی نشم غورځولی ...

په دومره توپیر چی له نجیب سره د خپلو دوه نیم لکه حزبی یارانو غم ؤ او له استاد سره د ټول ملت غم دی . هغه وایی چی زه خو ملت چاته نشم پرېښودی ، یعنی زه باید لومړی د دوی له سرنوشت نه ځان وا چوم او بی غمه کړم بیا به چوکی پرېږدم .

او دا دی اوس استاد د دوی نه په نوبت ځان بی غمه کوی هره د ورځ د لسګونو تنوسرنوشت ټاکی اوهره ورځ ئي له یو شمیر نه ځان بی غمه کوی - چی کله له ټول ملت نه بی غمه شو بیا به اقتدار پرېږدی آخر دا ملت خو هسی په واګه نشی پریښودای هو دا یوه خبره ضرور شته چې د استاد دغه پروسه اوږده ده او وخت غواړی خو زړه ورته ټینګول په کارنه دی کیدای شی د یخنی او واووری له اوریدو سره ګړندی شی اوهغه څه چی دده تری مراد دی زر حاصل شی بر څه چی د استاد ربانی د واو ور کیدای شی دا دی چی نور نه کابل پرونی کابل دی اونه ئي او سیدونکی هغه پرونی خلك دی هغه دی ځینو نورو متابعوته هم دا زیری ورکړی چی په کابل به دا ژمی د راکټونو بمونو او ګولیو پر مرګونو برسیره د لوږی او یخنی درانه مرګونه راځی . او کیدای شی په زرګونو ته پکی مړه شی . چی دا کارهم د استاد ربانی د داو او اطمینان عامل کیدای شی . البته دا خودي زموږ ستاستو - لفرایی او استاد ربانی خیالونه اوخوبونه خو چی تقدیر چاته څه سوغاتونه ساتلی ، افغان اولس به د تراژیدیو له کوموتریو کړلیچو نوسره مخ کیږی اوڅه به کیږی ! !!

د دی خوب به راتلونکی شپی ورځی - او هغتی ورکوی خو !
زما په لمن کی له اغزیو پرته هیڅ نشته دی
ته په نظر کی د ګلونو خریدار راځی

ځالاسونه یي پخپلو سترګو اوسینه وموښل خوماځان ددي قابل نه باله

محمدامیري

په یادمي ده هغه ورځ چي زه له جبهې کراچي ته راوسېدلي وم ، اوهلته مي کور هم وه ، اوډځوملګرو دلیدلولپاره دستده میډیکل کالج لیلیې ته ورغلم . دمازدیګر دمانځه آذان پورته شو، چي دلیلیې په احاطه کي دجمات په خوا روان وو، په لاره کي مي ملګري راته وویل، چي دي جمات ته یوسپین ګیري حاجي راځي ، ډیرځله له مادافغانستان دمجاهدینوپه باره کي پوښتنه کوي چي ځوك راپیاندي وویته ، کله چي له جماته راووتلو هغوي لاسونه سره ورکړل اوزه ئي هم یوه تاآشناسړي ته معرفي کړم ، هغه سړي چي یوسپین ګیري ،مګر تکړه سړي معلومیده ، زمالاس یې ټینګ ونیوځ، اوخپلي سترګي ئي ورسره وموښلي اوبیائي زما لاس پخپله سینه ورواهه . زه چي په هغه وخت په اردو سره صحیح غږیدلاي نشوم . خپل ملګري ته مي وویل ، چي دي حاجي صاحب ته ووایه چي ماته آزار مه راکوه ،ځکه خداي پوهیږي چي ماځان ددي قابل نه لیده ، اوددهغه سپین ګیري له دومره عقیدته وشرمیدم . مګر هغه راته په ځواب کي وویل : تاسو مجاهدین الله تعالي ته ډیرنږدي خلك یاست .الله تعالي په قرآن کي په مجاهدینه دمجاهدآس هم نه ، بلکه دمجاهد دآس دپښوپه ګرداوغبارقسم خوړلي دي.

هغه راته وویل : په پاکستان کي ضیاصاحب دنظام مصطفي چیغي وهي، خوهغه نظام مصطفي په پاکستان کي نشي راوستلاي ، بلکه دایه دافغانستان دامجاهدین ، چي اوس دروسانوله لاسه شهیدانیږي په افغانستان کي نظام مصطفي راولي، بیا به دوي په پاکستان کي نظام مصطفي راولي، اودا افغان مجاهدین به دهندمسلمانان دهندوانو له ظلمه خلاصوي .

داخبري اوس هم زماپه غوږونو کي انګازه کیږي ، داچي دا حاجي صاحب له کومه ځایه داخبره کوله ، یوازي یوتصوروو، اوکه کوم نقلي اوعلمي رازوه ؟ زه نه پوهیږم ،مګرنن دافغان ولس په فضاکي چي لخه غبارلیدل کیږي ، داخبره نه تائیدوي ، خوداخبري زماهیریږي هم نه .

متأسفانه هغه ملت چي دخداي په هیله ، اوډظلم په خلاف ئي جهاد شروع کړ، داسي معلومیږي ، چي ټول شهیدان شوي دي، له هغو څېرکوندي اویادمعاش په تلاش کي سرګردان واره ماشومان یتیمان پاتي دي، چي دتعلیم له پانګي نه هم بي برخي دي .

اوداسي ښکاري ،یوه برخه دهغو خلکوچي لاشهیدان شوي نه دي، اولاتراوسه دانصاف په لاره قایم پاتي دي، ځینې رښتینې اوصدیق ملګري ئي شهیدان شول، ځینوملګروئي وورسره غریب وګاوه ، هغوي دوالرو اوکلدارو په دي تجارت کي ورسره شامل نشول، توله میدانه ووتل اوخاموش پاتي شول اولااوس هم دخداي په هیله ناست دي، ځان ورته بې وسه ښکاري ځکه په کلونو کلونو چي هغوي منزل کړي و ، اوبیر بنیادئي جوړکړي وه ،نن هغه بنیاد په نړیدو ښکاري .

بې وسه اوخاموشه ځکه ؛ هغه بنیاد نه یوازي دهغوخلکوله خوا ورانیږي چي پرون به ئي ویل :« خدانیست،خدایت راطلب کن که درین قیدخانه ترا از عذاب من رهایی دهد ، یاداچې چېرته دي هغه ،خداي چي ته وریباندي ناټیدلي ؟«، اونه یوازي دایه ئي په ژبه ویل بلکه پخپل ټول قوت ئي ددي بنیاد له بلویانو سره مبارزه اومجادله کوله ، ډیر نږدي خپلوان ئي دیردویه لاس وژل .

دابنیادئن نه یوازي ددښمنانوله خواورانیږي، بلکه دابنیادئن دهغه ددوستانو له خواهم ورانیږي ، دهغه چاله خواچي پرون دشهیدانوملګري وو، ددي بنیاد دجوړیدو لپاره ئي مبارزه کړي وه ، بلکه ددي دوستانو په قومانده ورانیږي .

نن دهغه سپین ګیري باباخوب دافغان مجاهدینوپه باره کي ماته تصور ښکاري، مګر هغه وخت داخوب ماته تصورنه ښکاریده بلکه زما هم داعقیده وه چي ان شاء الله داسي به کیږي ، که داسوال چي نن له ماسره دي هغه وخت واي مابه هغه وخت ضرورله هغه بابا نه داسوال کړي ؤ :« چي بابا څنګه به افغان مجاهدهند مسلمان اومظلومان دتیارو له قیده آزادوي، اوبیا به ئي دنور اورڼا خواته بیائي ؟«

ځکه نن کوم غبار اوګردونه چي په افغاني فضا ښکاریږي، نوداسوال دسري په زړه کي پیداکیږي، اوس ماته داسي ښکاري :

١- الف : پاخپرخداي دلاري خلك شهیدان شول، او د هغوي نه کونډي اویتیمان پاتي شول .

